AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۱/۰۷

# له تقدیره ګیله نه کوم

ګیله نه کوم؛ ځکه رب مې تقدیر له وړاندې لا لیکلی او مونږ ټولي باید پرې قناعت وکړو، ښایي له دې وروسته ښې او ارامې ورځې راباندې راشي منم چې ایله مې د ژوند ۱۹ پسرلي تیر کړي؛ خو غربت مې ځیره د ۲۹ کلن کړه، یعنې ۱۰ کاله یې زړو کړی یم او ښایي د وخت په تېرېدو مې ځیره نوره هم زړه او تر عمره دوه چنده شي. د سر وېښتو کې مې سپین لګېدلي، ملګري یې ناروغي بولي او بر مخ د ږیرې ژر را زرغونېدل مې د ویني ګرماېش او سور والی ښیي؛ مګر د مور جاني خولې ته چې ګېنې؛ نو ټوله پره په غربت او بدحالی ور اچوي. وایي: ورځ تر بلې کمزوری کېږې؛ خو زه پرې یوازې وخاندم؛ ځکه انسان ته په خپل وجود کې کمزوري نه ترسره کیږي او ۱۹ کلني خو بیا د ځواني دور دی؛ نو ځنګه به خپله وجودي کمزوري او خپله ناروغي درک کړم. مګر د نیکه او پلار خبره مې هر وخت د ذهن دیوالونه کرنګوي، چې کله به مې د زیات وزن کوم شی اوچت کړ؛ هغوی (دواړو) به را غږ کړل: زوی مړې! نوم به دې وباسي، د ځوانی زور دې کوي؛ خو پته به یې په بوډاتوب کې در معلوم شي، یعني: (د دې ډول غږ به سبا واورې). بده یې نه را ته ویل، اوس مې هم کله ناکله هغه جوړ شوی زخم ویني شي چې داغ یې د څو کلنې حادثې شاهدي ورکوي.

شهرت مې نه دی غوښتی او نه یې لیوال یم؛ ما اوریدلي چې زیات شهرت ژوند سختوي، له سړي ځیني ازادی اخلي او ښایي ډیر پېښتانه قامتونه او روحونه دې هم ملګرتیا پرېږدي، ځکه شهرت که ډیر کله انسان ته کبر وربښي نو کله بیا نو ړهم درنه لرې کوي، هلته به ستا کومه خطا او ګناه هم نه وي؛ مګر پښتني تولنه کې ملګرتیا تر حد او حیثیت پورې تړلې ده. زه به لیکوالان ګرم وبولم چې لا دې هماغه د خانانو، ملکانو او رئیسانو کیسي ولس ته وړاندې کړي؛ خو دا را ته سر په سترګو منظور ده، چې دوی د حیثت په اړه پخوانی تیوري او نظریه په نوې بڼه کټ مټ هماغسې وړاندې کړي؛ ځکه ما ته داسي ښکاري، چې لا ه دلته ډیرې رشتې او ملګرتیاوې تر مقام، پیسو، غربت، مالدارۍ، ښکلا، بدرنګي او معیار پورې منحصرې پاتې دي.

زه له مالدارۍ، بډایي او شتمنی ګیله نه کوم اوغربت هم ګرم نه بولم؛ ځکه ۹۰ سلنه افغانان غریبان دي، نو له بې وسۍ او مفلسی نه کرکه کول به له دغو ټولو وګړیو کرکه وي؛ مګر د شتمنی په مقام مې هلته دوزخي شک وشي، چې پښې ابله ماشوم د یوې کولي کټلو له پاره د خانانو تر موټره منډې ور وهي او په دې هڅه کې وي، چې د هغه پښې او بوټان ژر ور صفا او رنګ کړي، بیا د دغي قرباني بدله هم کله ناکله لس روپۍ او کله د سختي بې دردی لغته وي. یا دا چې د چم ګاونډي مې د اختر په ورځ ماشومانو ته جامې و نه لري او د څنګ منشین مې دوه درې قرباني کوي، دلته مې زړه ډک شي او یو مظلوم (اه) تر وخیژي، چې: په غربته ستا زار شم، ولې دومره ستم او ولې دومره زیاته بې وسي؛ خو بیا د رب لیکلی تقدیر را یاد شي، چې ټول یې له وړاندې لیکلی. زه د غربت ځپلي ماشوم هغې سپېځلي ارزو ته هم اوبه اوبه شم چې وwایي: زما لویه ربه! ژوند یوازې یوې هیلې ته کوم، ځان ته هیڅ نه غواړم؛ مګر دومره ژوند او دارایي را کړه، چې غمونو بې وخته زړه کړې مور مې حج ته ولېږم؛ تر څو هغه خپلې ګیلې تر خپل ربه ور ورسوي او په هغه ځای کې د کلونو سخت ناروغ ابا جان ته هم دعا وکړي؛ ځکه اوریدلي مې دي، چې کله دې د رب په کور د لومړي ځل له پاره سترګي ولګیږي؛ نو هره دعا چې وغواړې پووره کیږي. نو زما دې همدغه دعا قبوله شي، ځکه زه اوس هم په زړه کې ستا ذات او ستا نوراني کور ته ګورم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ